# ۲۵۰ ذهني

## سوالونه او ځوابونه



ټولونه

مجیب الله غریب دوست

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړنې:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | (۳۵۰) دهني سوالونه او ځوابونه |
| ټولونه | : | مجیب الله غریب دوست |
| خپرندوی | : | باور خپرندویه ټولنه |
| کمپوزران | : | شاهد الله ارمان او واحد الله بیتاب |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۵هـ ش |
| د خپرونو لړ | : | شپاړسم (۱٦) |
| چاپ شمیر | : | ۱۱۰۰ ټوکه |



د چاپ حقوق له خپروندوی ټولنې سره خوندي دي



باور کتاب پلورنځی، لاندینی پوړ، اسحاق زي مارکېټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد-

اړیکه: ۰۷۷-۲۷۰۲۰۰٤ , ۰۷۸-۷۷۳۰۰۰۵ , ۰۷۹-۵۳۵۳٦۱۰



BAWAR LIBRARY

باور کتابتون

FB:Ezatullah.sultanzai

## بسم الله الرحمن الرحيم

(۱) سوال: دنيا کې د لومړي ځل لپاره د چا ږيره کې سپين وېښته ولګېدل؟

ځواب : د ابراهيم عليه السلام په ږيره کې .

(۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ځلور خواوې يې وچې وي او په مينځ کې يې اوبه وي؟

ځواب: هغه ته جهيل وايي.

(۳) سوال: دومره يې سپتې دی چې راټولېږي نه، دومره يې ځونډي دي چې شمېرل کېږي نه؟

ځواب: اسمان.

(۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ که ډک وي او که تش وي، وزن يې يو شان وي؟

ځواب : ميموري کارټ ، بيټري .

(۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ورته وايې راځه، نه راځي او چې ورته ووايې، مه راځه راځې؟

ځواب : شونډي.

(٦) سوال: دعيسی عليه السلام د پلار څه نوميږه؟

ځواب : پلار يې نه ؤ.

(۷) سوال: څه شی د ټولنيز اړيکو وسيلې په نامه يادېږي؟

ځواب: رسنی.

(۸) سوال: املاء ته په پښتو کې څه شی وایې؟
ځواب: لیکدود.
(۹) سوال: په افغانستان کې څو وحشي حیوانات پیدا کېږي؟
ځواب: (۱۲۰) ډوله.
(۱۰) سوال: ځمکه د جوړښت له نظره منظمه کره ده او که نامنظمه کره ده؟
ځواب: نامنظمه کره ده.
(۱۱) سوال: د وتر لمونځ حکم څه شی دی؟
ځواب: وتر لمونځ واجب دی.
(۱۲) سوال: د اقامت حکم څه شی دی؟
ځواب: اقامت د هر فرض لمونځ لپاره سنت دی.
(۱۳) سوال: هغه کوم حیوان دی چې د لرگی نه پیدا وي؟
ځواب : د موسی علیه السلام آمسا.
(۱۴) سوال: هغه کوم حیوان دی چې د تیږی نه پیدا شوی؟
ځواب : د صالح علیه السلام اوښه.
(۱۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې مونږ له یو ځای څخه بل ځای ته رسوي او خپله حرکت نه کوي؟
ځواب : لاره .
(۱۶) سوال: ځمکه خپل وضعی حرکت په څومره وخت کې پای ته رسوي؟
ځواب: (۲۴) ساعتونه یا (۲۳) ساعته او (۵۶) د قیقو کې.

(۱۷) سوال: په افغانستان کې څو ډوله الوتونکي حیوانات شتون لري؟

ځواب: (۵۰۰) ډوله.

(۱۸) سوال: له افغانستان څخه وچه چاپیره ده او که سمندر؟

ځواب: وچه ترې چاپیره ده.

(۱۹) سوال: لنډی د چا له خوا ویل کیږي؟

ځواب: د ښځو له خوا.

(۲۰) سوال: لنډی په کومو نونونه یادیږي؟

ځواب: ټپه او ټیکی.

(۲۱) سوال: انس بن مالك (رضی الله عنه) څو کاله له محمد (صلی الله علیه وسلم) خدمت کړی؟

ځواب: لس کاله.

(۲۲) سوال: که چیرته د جنازې په لمونځ کې د چا په تندي کې ازغی لاړ شي نو ایستل یې جایز دي او که نه؟

ځواب : جنازه کې سجده نشته.

(۲۳) سوال: دا به څه شی وي؟ چې پرون نه وو، نن پیدا شو او سبا مري؟

ځواب : نن ورځ .

(۲۴) سوال: له مړي څخه ژوندی پیداکیږي او له ژوندي څخه مړی، دا به څه شی وي؟

ځواب: دا چرګه اوهګی ده.

(۲۵) سوال: د څو پېغمبرانو، نومونه په قرآن کې راغلي دي ؟
ځواب: د (۲۵) پينځه ويشت پېغمبرانو نومونه.
(۲٦) سوال: هغه کومې اوبه دي. چې په لمر زياتېږي او په يخ کمېږي؟
ځواب: د واورې اوبه.
(۲۷) سوال: د ابوهريره (رضی الله عنه) اصلی نوم څه وه؟
ځواب: عبدالرحمن (رضی الله عنه).
(۲۸) سوال: مړ راپاڅېږي ژوندی نيسي؟
ځواب: دغه تلک دی، چې موږکان نيسي.
(۲۹) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې پيل او پای نه لري؟
ځواب : دايره .
(۳۰) سوال: هغه کوم سيندونه دي چې تودو موسمونو کې يې اوبه کمېږي؟
ځواب: جنوبي سيندونه.
(۳۱) سوال: هغه کوم گل دی چې بوی کيږي نه، خوړل کيږي؟
ځواب: گلپي.
(۳۲) سوال: په دوشنبه کې د جمعې لمونځ کيږي، او که نه؟
ځواب : هو ! دوشنبه د تاجکستان پايتخت دي، کيږي.
(۳۳)سوال: د اختر په ورځ روژه نيول صحيح ده که نه؟
ځواب: نه.

(۳۴) سوال: اذان کوي ملا نه دی دوه پښې لري انسان نه دی، دا به څه شی وي؟
ځواب: چرګ.
(۳۵) سوال: په مدینه منوره کې لومړی کوم مهاجر ماشوم زیږیدلی دی؟
ځواب: عبدالله بن زبیر (رضی الله عنه).
(۳۶) سوال: سور دی صندوق دی له سرو دانو نه ډک دی دا به څه شی وي؟
ځواب: انار.
(۳۷) سوال: د قرآن کریم لومړنی حافظ څوک دی؟
ځواب: رسول الله علیه وسلم دی.
(۳۸) سوال: په افغانستان کې څو ډوله الوتونکي حیوانات شته؟
ځواب: (۴۴۱) ډوله.
(۳۹) سوال: په افغانستان کې نړیوال هوایي ډګرونه په کومو ولایتونو کې شته؟
ځواب: په کابل او کندهار کې.
(۴۰) سوال: هغه کوم پیغمبر و، چې درې ورځې یې له خبرو څخه روژه ونیوله؟
ځواب : زکریا علیه السلام.
(۴۱) سوال: د پښتو ژبې لومړنی ګرامر چا لیکلی دی؟
ځواب : پیر محمد کاکړ.

(۴۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې تیږه وړي، غوښه راوړي؟

ځواب: عولکه (لینده).

(۴۳) سوال: تر اوسه پورې څو عناصر پیژندل شوي دي؟

ځواب: (۱۱۸) عناصر.

(۴۴) سوال: د سیاسي جغرافیې له نظره اسیا په څو برخو ویشل شوې ده؟

ځواب: په اوو(۷) برخو.

(۴۵) سوال: هغه کومه ځمکه ده، چې ټول عمر یو ځل لمر پرې لګیدلی وي؟

ځواب : د نیل دریاب کله موسی علیه السلام په آمسا ووهل، او فرعون ورپسی روارن ؤ.

(۴٦) سوال: هغه کوم زخم دی، چې وینه ترې نه ځي؟

ځواب :د احساس او شعور زخم.

(۴۷) سوال: هغه به څه شی وي؟چې یوه سترګه او یوه پښه لري؟

ځواب: ستن.

(۴۸) سوال: وړوکې مې مرغی ده او ستره یې لکی ده دا به څه وي؟

ځواب: ستنه اوتار.

Scanned by CamScanner

(۴۹) سوال: هغه څه شی دی؟ چې ځي ځي مخ نه را اړوي؟
ځواب: اوبه.
(۵۰) سوال: افغانستان ته د کوم خلیفه په وخت کې اسلام راغی؟
ځواب: د عثمان (رضی الله عنه) په وخت کې؟
(۵۱) سوال: پنبه د کال په کومه میاشت کې کرل کېږي؟
ځواب: د ثور په میاشت کې.
(۵۲) سوال: ځنګلونه په څو ډوله دي؟
ځواب: څلور ډوله.
(۵۳) سوال: د ادم علیه السلام عمر څو کاله ؤ، چې مور او پلار یې وفات شو؟
ځواب : د دي مور او پلار نه ؤ.
(۵۴) سوال: مار څو غوږونه لري؟
ځواب: مار غوږونه نه لري.
(۵۵) سوال: په ورغوي کې ځایږي شپه او ورځ پرې معلومیږي، دا څه شی وي؟
ځواب: ساعت.
(۵۶) سوال: الله (جل جلاله) ته په ټولو نومونو کې ډېر خوښ نومونه کوم دي؟
ځواب : عبدالله او عبدالرحمن .

(۵۷)سوال: هغه به څه شی وي؟ چې یو ځل تېر شي بېرته نه راګرځي؟
ځواب: عمر.
(۵۸) سوال: غنم په څو ډوله کرل کېږي؟
ځواب: په دوه ډوله، ابي او للمي غنم.
(۵۹) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې خوږ دی د خوراک نه دی درووند وزن نه لري؟
ځواب: خوب دی.
(۶۰) سوال: که چېرته صفر د (۱۰۰) سره ضرب شی څو کېږي؟
ځواب : صفر .
(۶۱) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې شپه او ورځ ګرځي خو دمه نه کوي؟
ځواب: ساعت.
(۶۲) سوال: هغه کومه ونه ده چې پنځه پاڼې لري؟
ځواب: لاس دی.
(۶۳) سوال: بابا غر د افغانستان په کومه برخه کې پروت دی؟
ځواب: په منځنۍ برخه کې.
(۶۴) سوال: د قرآن کریم تر ټولو لوی سورت کوم یو دی؟
ځواب : سورت بقره .

(٦٥) سوال: جوار د افغانستان په کومو ولایتونو کې کرل کېږي؟
ځواب: پکتیا او ننګرهار.
(٦٦) سوال: د اسلام له پنځو بناؤ څخه کومه بناء ده چې ټکې نه لري؟
ځواب: کلیمه طیبه.
(٦٧) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې درې سترګې او یوه پښه لري؟
ځواب: څراغ.
(٦٨) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې هر انسان یې یو ځلې اغوندي؟
ځواب: کفن.
(٦٩) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې اول یې نه ګورو، چې ویې ګورو اخلو یې نه، او چې وایې خلو؛ نو اغوندو یې نه او چې وایې غوندو نو اوباسو یې نه؟
ځواب: کفن دی.
(٧٠) سوال: خوله لري غاښونه نه لري ګیډه لري کلمې نه لري، دا به څه شی وي؟
ځواب: منګی او داسې نور.
(٧١) سوال: د قرآن کریم تر ټولو وړوکی سورت کوم یو دی؟
ځواب : سورت کوثر .

(۷۲) سوال: دا به څه شی وي؟ څلور پښې لري او بې شمېره کولمې لري؟
ځواب: کټ.

(۷۳) سوال: هغه څه شی دی چې نیم الله (جل جلاله) جوړ کړی او نیم د انسان په واسطه الله (جل جلاله) جوړ کړی؟
ځواب: خرګاډی سره د خره.

(۷۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې د ورځې وي د شپې نه وي؟
ځواب: لمر.

(۷۵) سوال: د قرآن کریم کوم ایت ته د ټولو ایاتونو سید ویل کېږي؟
ځواب: ایت الکرسي.

(۷۶) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې د شپې وي د ورځې نه وي؟
ځواب: ستوري.

(۷۷) سوال: د استوا د کرښې شمالي برخې ته کومه کره وایې؟
ځواب: شمالي نیمه کره وایې.

(۷۸) سوال: الله تعالی په نړۍ کې د تورو تیارو د لېرې کولو لپاره څوک راولیږه؟
ځواب: محمد (صلی الله علیه وسلم).

(۷۹) سوال: په قرآن کریم تر ټولو لوی ایت کوم یو دی؟
ځواب : د سورت بقرې (۲۸۲) ایت .
(۸۰) سوال: هغه به څه شی وي؟ لین نه لري خو برق لري؟
ځواب: لاس څراغ.
(۸۱) سوال: د هېواد د غرونو تر ټولو اوږده لړی کومه ده؟
ځواب: د ختیځ هندوکش غرونه.
(۸۲) سوال: د هندوکش د غرونو اوږدوالی څومره دی؟
ځواب: (۳٦۰) کیلو متره.
(۸۳) سوال: د ژمي او اوړي ذکر په قرآن کې څو ځلې راغلی دی؟
ځواب: یو ځلې.
(۸۴) سوال: لومړی جهادي بحري سفر د چا تر مشری لاندې شوی دی؟
ځواب: د معاویه (رضی الله عنه ) تر مشری لاندې.
(۸۵) سوال: دا به څه شی وي؟ دوه خوشحاله ورونه دي چې کله هم راځي نو مشر وروسته کشر مخکې وي؟
ځواب: اخترونه.
(۸٦) سوال: په افغانستان کې اوله لنډه کیسه چا ولیکه؟
ځواب: عبدالحی حبیبي.

(۸۷) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ورنه ځم، دی رانه پاتې کېږي؟
ځواب: پل.
(۸۹) سوال: الله (جل جلاله) په ټولو ورځو کې لومړی کومه ورځ پیدا کړې؟
ځواب : د شنبې ورځ .
(۹۰) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې پوکی ورکړې مړ کېږي؟
ځواب: اور.
(۹۱) سوال: که یې خورم گناهگارېږم او که یې نه خورم نو وږی کېږم دا به څه شی وي؟
ځواب: روژه ده.
(۹۲) سوال: هغه کوم څناور دی چې کولمې نه لري؟
ځواب: کیشپ.
(۹۳) سوال: هغه کوم اته دي چې نهه کېږي نه؟
ځواب: د قیامت په ورځ به عرش (۸) ملائکو پورته کړی وي.
(۹۴) سوال: قیامت دڅه په ورځ منځته راځي؟
ځواب: د جمعې په ورځ.
(۹۵) سوال: هغه کوم انسان دی چې کافر او مسلمان ته په یوه سترگه گوري؟
ځواب: د یوې سترگې خاوند.

(۹۶) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې پنځه دي شپږ کېږي نه؟
ځواب: کلمه. لمونځ. روژه. زکات. حج.
(۹۷) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې هر څومره يې ماتوې نه ماتيږي؟
ځواب: اوبه.
(۹۸) سوال: د ځمکې په مخ لومړی کومه ونه شنه شوې ده؟
ځواب : د خرما ونه.
(۹۹) سوال: يو بام دی او پنځه ناوې لري، دا به څه شی وي؟
ځواب: لاس دی چې پنځه ګوتې لري.
(۱۰۰) سوال: په پوزه کيني، غوږونه نيسي؟
ځواب: عينکې.
(۱۰۱) سوال: کړه وړه په غره خته، ځانګه يې ترخه، خو مېوه يې خوږه، دا به څه شی وي؟
ځواب: د شاتو مچی.
(۱۰۲) سوال: هغه به کوم شی وي؟ چې د کال دولس مياشتی په يوه پښه ولاړ وي؟
ځواب: ونه.
(۱۰۳) سوال: هغه کوم حشرات دي چې نسبت نور بدن نه يې د ماغ غټ وي؟
ځواب: مېږی.

(۱۰۴) سوال: حامد کرزئ څو ځلې پاچاهی کړې ده؟

ځواب: دوه ځلې.

(۱۰۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې اوه دي اته کېږي نه؟

ځواب: د هفتې ورځې (۷) دي.

(۱۰٦) سوال: خوشحال خان په څو کلنی کې په شعر ویلو پیل وکړ؟

ځواب: په شل کلنی کې.

(۱۰۷) سوال: په سیند کې کومه تېره نشته؟

ځواب: وچه تېره.

(۱۰۸) سوال: عیسی علیه السلام په لاندې کوم میلادي کال کې وفات شوي. ۱۳۴م ۴۰۰م ۱۵۰م

ځواب: عیسی السلام نه دی وفات شوی.

(۱۰۹) سوال: کوم پېغمبر خپل قوم په اور کې وغورځاوه؟

ځواب: ابراهیم علیه السلام.

(۱۱۰) سوال: هغه کومه ونه ده چې لرگی په کې نشته؟

ځواب: دکیلي ونه.

(۱۱۱) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې هیڅ کله نه بیلېږي؟

ځواب: اوبه.

(۱۱۲) سوال: هغه کوم پېغمبر دی چې واده یې نه دی کړی؟

ځواب: عیسی علیه السلام.

(۱۱۳) سوال: يو سړي د جنازې لمونځ کاوه کله چې سجدې ته لاړ نو په تندي کې يې اغزى لاړه تندى يې وينې شو اودس يې مات شو او کنه؟

ځواب :د جنازې په لمانځه کې سجده نشته.

(۱۱۴) سوال: يو شى دى، نه په اسمان کې شته او نه په ځمکه کې دا به څه شى وي؟

ځواب : د انسان فکر.

(۱۱۵) سوال: کبان په څو ډول دي؟

ځواب: درې ډوله.

(۱۱۶) سوال: په ځارويو کې بهترين ځاروى کوم يو دى؟

ځواب: آس.

(۱۱۷) سوال: په سړيو کې لومړى ايمان چا راوړ؟

ځواب: ابوبکرصديق (رضى الله عنه).

(۱۱۸) سوال: په ماشومانو کې لومړى چا ايمان راوړى؟

ځواب: علي (رضى الله عليه)

(۱۱۹) سوال: هغه به څه شى وي؟ چې په ثانيه او دقيقه کې پيدا کيږي مگر دذ د په ساعت کې نه پيدا کيږي؟

ځواب: د (ي) تورى.

(۱۲۰) سوال: لومړى به په اخرت کې کوم امت سره حساب او کتاب کيږي؟

ځواب: د محمد (صلى الله عليه وسلم) له امت سره.

(۱۲۱) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې بې پښو ځي او غوږونو ته ننو ځي؟
ځواب: غږ.
(۱۲۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې اوه دي اته کېږي نه؟
ځواب: ۷ اسمانونه او ۷ ځمکې.
(۱۲۳) سوال: له یکشنبې نه دوه ورځې مخکې او درې ورځې وروسته کومه ورځ ده؟
ځواب: پنجشنبه.
(۱۲۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې څلور دي پنځه کېږي نه؟
ځواب: تورات. انجیل. زبور. قرآنکریم.
(۱۲۵) سوال: هغه کوم یوولس دي چې دولس کېږي نه؟
ځواب: د یوسف علیه السلام ورونه ځکه هغه (۱۱) وو.
(۱۲٦) سوال: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کوم ډول ګوتمه په لاس کوله.
ځواب: د سپینو زرو ګوتمه.
(۱۲۷) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې اوږېدل نه شي کولای خو سړی پوهوي؟
ځواب: کتاب.

(۱۲۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې خوراک کوي خو مړېږي نه؟

ځواب: مرګ.

(۱۲۹) سوال: هغه کوم دولس دي چې دیارلس کېږي نه؟

ځواب: د کال (۱۲) میاشتې.

(۱۳۰) سوال: داسې کوم شی دی، چې په جنت کې به نه وي؟

ځواب: مرګ. حسد. نجاست. بوډاوالی.

(۱۳۱) سوال: د امریکا بیرغ څو ستوري لري؟

ځواب: پنځوس.

(۱۳۲) سوال: د رسول (صلی الله علیه وسلم) پلار چیرته وفات شوی؟

ځواب : په مدینه منوره کې.

(۱۳۳) سوال: د کومې کلمې پیل او پای یو ډول دی؟

ځواب : د تمت .

(۱۳۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې یو دی دوه کېږي نه؟

ځواب: الله (جل جلاله) دی.

(۱۳۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې درې دي څلور کېږي نه؟

ځواب: لوح. قلم. کرسي.

Scanned by CamScanner

(۱۳٦) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې دوه دي دری کېږي نه؟

ځواب: شپه او ورځ.

(۱۳۷) سوال: هغه کومه نقلیه وسیله ده چې یو کس په کې دی او څلور یې چلوي؟

ځواب: جنازه.

(۱۳۸) سوال: هغه به کومه شی وي؟ چې خورې یې ډېرېږي او چې نه یې خوري کمېږي؟

ځواب: روژه.

(۱۳۹) سوال: هغه کوم هېواد دی، چې د مرکز نوم سره یې د (ی) توری یو ځای شي نو د یو ډول سبزی مانا ورکوي؟

ځواب: روم (رومي).

(۱۴۰) سوال: قرآن کریم څو سورتونه لري؟

ځواب: (۱۱۴) سورتونه.

(۱۴۱) سوال: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د څوکالو ؤ چې مور بي بي یې وفات شوه؟

ځواب: د شپږ (٦) کالو ؤ.

(۱۴۲) سوال: تر ټولو لومړنی پیغمبر څه نومیږي؟

ځواب: ادم علیه السلام.

(۱۴۳) سوال: په شپه او ورځ کې څو رکعاته لمونځ ادا کېږي؟

ځواب: دوه دېرش (۳۲) رکعاته.

Scanned by CamScanner

(۱۴۴) سوال: په یوه اونۍ کې څو رکعاته لمونځ ادا کېږي؟
ځواب: دوه سوه اوځلوریشت (۲۲۴) رکعاته.
(۱۴۵) سوال :ادم علیه السلام له هر څه مخکې څه شی ساتلی و؟
ځواب: چرګ.
(۱۴۶) سوال: د کومې کلیمې څخه چې اباد لرې شي د غظمت معنا ورکوي؟
ځواب : د جلال اباد څخه .
(۱۴۷) سوال: په آسمان کې شته دی، په ځمکه کې نه شته؟
ځواب: دا د (نون) توری دی.
(۱۴۸) سوال: هغه کوم مسجد دی چې محراب نه لري؟
ځواب: کعبه شریفه.
(۱۴۹) سوال: هغه کوم لمونځ دی، چې په جومات کې کول یې مکروه دي؟
ځواب: د جنازې لمونځ.
(۱۵۰) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې سړی یې له ښځې سره وګوري، ښځه پرې طلاق کېږي؟
ځواب: دا کفر دی، کله چې ښځه کافره شوه نو طلاق واقع شو.

Scanned by CamScanner

(۱۵۱) سوال: د مسلمان انسان په تن کې لومړی ګوهر څه شی دی؟

ځواب: ایمان.

(۱۵۲) سوال: ساعت د کوم مسلمان په وخت کې جوړ شو؟

ځواب: هارون الرشید.

(۱۵۳) سوال: هغه به څخه شی وي؟ چې د غوږونو نه پرته اوریدل کوي او بې ژبې خبرې کوي؟

ځواب: موبائیل.

(۱۵۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې خېټه لري خو کولمې نه لري؟

ځواب: منګی.

(۱۵۵) سوال: عبدالمطلب د چا زوی وه؟

ځواب: د هاشم.

(۱۵٦) سوال: هاشم د چا زوی وه؟

ځواب: د عبدالمناف.

(۱۵۷) سوال: بلال (رضی الله عنه) لومړی د کوم لمانځه لپاره اذان وکړ؟

ځواب: د ماسپخین لمانځه لپاره.

(۱۵۸) سوال: تاجکستان څو ولایته لري؟

ځواب: درې (۳) ولایتونه لري.

Scanned by CamScanner

(۱۵۹) سوال: هغه کوم پیغمبر و، چې لومړی یې مېلمنو ته میلمستیا ورکړه؟
ځواب: ابراهیم علیه السلام.
(۱۶۰) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ځمکه کې نشته؟
ځواب: کبر.
(۱۶۱) سوال: د افغانستان لومړنی جمهور رئیس څه نومېږي؟
ځواب: سردار محمد داود خان.
(۱۶۲) سوال: د ابوبکر (رضی الله عنه) اصلی نوم څه وه؟
ځواب: عبدالله.
(۱۶۳) سوال: په دنیا کې تر ټولو ښایسته څه شی دی؟
ځواب: انسان.
(۱۶۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ټولو اور دی، خو لرګی په کې نشته؟
ځواب: لمر.
(۱۶۵) سوال: د کوم پاچا په وخت کې په لومړي ځل په افغانستان کې راډیو جوړه شوه؟
ځواب: د امیر امان الله خان په وخت کې.
(۱۶۶) سوال: د افغانستان د کوم ولایت نوم دی، چې ټکی نه لري؟
ځواب: لوګر.

Scanned by CamScanner

(۱٦۷) سوال: د انسان په بدن کې تر ټولو کمزورې هډوکې کوم یو دی؟
ځواب: د پوزې هډوکی.
(۱٦۸) سوال: هغه کوم هېواد دی، چې نیم نوم یې د مېوې دی او نیم نوم یې ښځینه دی؟
ځواب: امریکا (ام ـ ریکا).
(۱٦۹) سوال: د جنت کیلي به څه شی وي.
ځواب: کلمه طیبه.
(۱۷۰) سوال: هغه کوم سورت دی، چې په هغه کې یو ځلې زیر استعمال شوی دی؟
ځواب: سورت اخلاص دی.
(۱۷۱) سوال: هغه کوم افغان و، چې په شپږو ورځو کې یې یوه ژبه زده کوله؟
ځواب: سید جمال الدین افغان.
(۱۷۲) سوال: هغه د کومې مېوې نوم دی، چې د دوه ځایونو نومونه پکې وي؟
ځواب: هندوانه، چې هند هېواد دی او وانه په پیښور کې د یو ځای نوم دی؟
(۱۷۳) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې دنیا کې ورته هر شی ضرورت لري؟
ځواب: نوم.

Scanned by CamScanner

(۱۷۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې د ده لاندې تېرېږي؟
ځواب: قلم دی، چې هرڅه پرې ليکل کېږي.
(۱۷۵) سوال: د افغانستان تر ټولو لوی پل کوم دی؟
ځواب :د بهسودو پل.
(۱۷۶) سوال: له ټولو نه مخکې بيت المال چا جوړ کړ؟
ځواب : عمر (رضی الله عنه).
(۱۷۷) سوال: وچ کلک، د کولمو ډک؟
ځواب: کټ.
(۱۷۸) سوال: هغه به کوم شی وي؟ چې غاړه لري، لاس لري، پښه نه لري؟
ځواب: منگې.
(۱۷۹) سوال: خديجه رضی الله عنها کله وفات شوه؟
ځواب: د رمضان په مياشت کې بعثت په لسم کال.
(۱۸۰) سوال: عائشه رضی الله عنها په کوم کال وفات شوه؟
ځواب: د هجرت په (۵۸) کال.
(۱۸۱) سوال: لومړی نبي څوک دی؟
ځواب: ادم عليه السلام.
(۱۸۲) سوال: چې ځم، راسره ځي، چې نه ځم، نه ځی؟
ځواب: سيوری.
(۱۸۳) سوال: راډيو ته په کره پښتو کې څه وايي؟
ځواب: غږ دبلی.

Scanned by CamScanner

(۱۸۴) سوال: هغه کوم حیوان دی، چې هم هګۍ اچوي او هم بچیو ته شیدې ورکوي؟

ځواب: شترمرغ.

(۱۸۵) سوال: لښته ده، زرلښته ده، نه ماتیږي سخته ده؟

ځواب: اوبه.

(۱۸۶) سوال: هغه به څه شی وي؟ اسمان کې نشته؟

ځواب: شیطان.

(۱۸۷) سوال: په تبرګي نه ماتېږي، خو په پاپړ ماتېږي؟

ځواب: روژه.

(۱۸۸) سوال: مار څو پښې لري؟

ځواب: مار پښې نه لري.

(۱۸۹) سوال: د قرآن کریم هغه کوم سورت دی چې ټوله دعا ده؟

ځواب: سورت الفاتحه.

(۱۹۰) سوال: یوه کوټنۍ ده په کې ناسته لېونۍ ده؟

ځواب: ژبه.

(۱۹۱) سوال: یوه ښځه ده، ستا د ترور خور ده، ستا ترور نه ده؟

ځواب: ستا مور ده.

Scanned by CamScanner

(۱۹۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ که هر څومره مزل وکړي، نو نه ستړې کېږي؟
ځواب: اوبه.
(۱۹۳) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ډېر لږ يې هم ډېر دی؟
ځواب: دښمن.
(۱۹۴) سوال: د ګلانو پاچا کوم يو ګل ته ويل کېږي؟
ځواب: ګلاب ته.
(۱۹۵) سوال: عبدالله بن عمر (رضی الله عنه) په کوم عمر کې ايمان راوړی و؟
ځواب: په کوچيني والي کې يې ايمان راوړی و.
(۱۹۶) سوال: د افغانستان ملي لوبه کومه يوه ده؟
ځواب: بزکشي.
(۱۹۷) سوال: لومړی رسول څوک دی؟
ځواب: نوح عليه السلام.
(۱۹۸) سوال: دا به څه شی وي؟ يو ګوته سړی دی، سل لنګوټی دی؟
ځواب: دا ستن او تار دی.
(۱۹۹) سوال: دا به څه شی وي؟ اس مې ولاړ دی ورختی نه شم چاجک مې درونډ دی، راخيستی نه شم؟
ځواب: دا ځمکه او اسمان دی.

Scanned by CamScanner

(۲۰۰) سوال: دا به څه شی وي؟ يو نيسي دوه ترې زانگي؟
ځواب: دا ترازو ده.
(۲۰۱) سوال: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په کوم کال طايف ته سفر وکړ؟
ځواب: د بعثت په لسم کال.
(۲۰۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې سر يې ستا په لاس کې دی او اخر يې په د روازه کې دی؟
ځواب: کيلي.
(۲۰۳) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې تل کمېږي او زياتېږي؟
ځواب : مياشت ده .
(۲۰۴) سوال: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په کوم تاريخ خپل کور پريښود؟
ځواب: د بعثت په څوارلسم کال د صفري د مياشتي په (۲۷) نيټه.
(۲۰۵) سوال: دا به څه شی وي؟ چې نه ماتېږي؟
ځواب: دا سيوری دی.
(۲۰۶) سوال: دا به څه شی وي؟ د ورځې بلار به وي، او د شپې لنگه وي؟
ځواب: دا څپلی ده.

Scanned by CamScanner

(۲۰۷) سوال: دا به څه شی وي؟ سور منګی دی، د مېوې ډک دی؟
ځواب: دا انار دی.
(۲۰۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې پاڼې لري نبات نه دی، جلد (پوستکی) لري حیوان نه دی، او ژبه لري انسان دي؟
ځواب: کتاب.
(۲۰۹) سوال: دا به څه شی وي؟ چې څلورویشت (۲۴) ساعته ګرځي، خوب نه لري؟
ځواب: دا ساعت دی.
(۲۱۰) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې څومره اوږد وي بیا هم لنډ دی؟
ځواب : د انسان عمر.
(۲۱۱) سوال: دا به څه وي؟ د شاتو نه خوږ دی او د زمري نه زوروره ده؟
ځواب: دا مینه ده.
(۲۱۲) سوال: هغه کومه توره شپه ده، چې په مینځ کې یې ورځ لیدل کېږي؟
ځواب: دا د سترګو تور دي.
(۲۱۳) سوال: یو ښار دی، دیوال یې شین دي، کوټې یې سرې دي او خلک یې تور دي؟
ځواب : هندوانه.

Scanned by CamScanner

(۲۱۴) سوال: هغه کوم لمونځ دی چې وخت یې معلوم نه دی؟

ځواب: د جنازې لمونځ.

(۲۱۵) سوال: قرآن کریم په څومره موده کې نازل شوی؟

ځواب: په درویشت کلونو کې.

(۲۱٦) سوال: ستا د ښځې ورور زما ماما کېږي، زه او ته به سره څه کېږو؟

ځواب: زوی او پلار.

(۲۱۷) سوال: هغه به کوم شی وي؟ چې نه لاس لري نه پښه مګر په هر ځای کې ګرځي؟

ځواب: شمال.

(۲۱۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې هرڅه لیکلی شي مګر یو شی هم لوستلی نه شي؟

ځواب : قلم .

(۲۱۹) سوال: دا به څه شی وي؟ چې له مانه مخکې کور ته ننوځي؟

ځواب: دروازه.

(۲۲۰) سوال: لومړی جنتي کس څوک دی؟

ځواب: محمد (صلی الله علیه وسلم).

(۲۲۱) سوال: مدینه څه ته وایې؟

ځواب: مدینه په عربي ژبه کې ښار ته وایې.

Scanned by CamScanner

(۲۲۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې نه پښې لري او نه لاسونه او په هر ځای کې وي؟

ځواب: هوا.

(۲۲۳) سوال: دا به څه شی وي؟ ټوله ورځ کار کوي، چې ماښام شي خوله یې شنه وي؟

ځواب: دا لور دی.

(۲۲۴) سوال: ستا د مور زوی ستا څه کېږي؟

ځواب: ورور.

(۲۲۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې له شیشې وځي، خو شیشه نه ماتوي؟

ځواب: لمر دی.

(۲۲٦) سوال: دا به څه شی وي؟ چې خورې یې خوړلی یې شې او چې نیسې یې نیولی یې نه شې؟

ځواب: دا هوا ده.

(۲۲۷) سوال: دا څه شی دی؟ ځي په پنځه پښو، ودریږي په درې پښو؟

ځواب: لاس ګاډی (کراچی).

(۲۲۸) سوال: هغه کوم میلمه دی، چې بې بلنې راځي؟

ځواب: مرګ.

Scanned by CamScanner

(۲۲۹) سوال: هغه کوم ډول خواږه دي چې ادم علیه السلام په ټول عمر کې نه دي خوړلي؟

ځواب: د مور شیدې.

(۲۳۰) سوال: خبرې کوي انسان نه دی، پاڼه لری ونه نه ده؟

ځواب: کتاب.

(۲۳۱) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې زما او ستا ترمنځ واقع دی؟

ځواب : د او لفظ دی.

(۲۳۲) سوال: عبدالمطلب په څو کلنی کې وفات شو؟

ځواب: په (۱۱۰) یو سل او لس کلنی کې.

(۲۳۴) سوال: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د څلورم واده پر وخت عمر څوکاله و؟

ځواب: (۵۷) یا (۵٦) کالو و.

(۲۳۵) سوال: هغه کوم پیغمبر و، چې د مېږي اواز یې اوریدلی دی؟

ځواب: سلیمان علیه السلام.

(۲۳٦) سوال: زکات په کوم کال کې فرض شو؟

ځواب: د هجرت په دوهم کال.

(۲۳۷) سوال: چې ته ورسره مخامخ شې تانه دوه جوړوي؟

ځواب: شیشه.

Scanned by CamScanner

(۲۳۸) سوال: هغه به کوم شی وي؟ چې ډېر يې لږ دي لږ يې ډېر دي؟
ځواب: دوست او دښمن.
(۲۳۹) سوال: تر ټولو لومړی په مخلوقاتو کې څه شی پيداشوی؟
ځواب: قلم.
(۲۴۰) سوال: بلال(رضی الله عنه) په څو کلنی کې ايمان راوړ؟
ځواب: په ۳۰ کلنی کې.
(۲۴۱) سوال: هغه کوم حيوان دی، چې عربان ورته کښتی وايې؟
ځواب : اوښ .
(۲۴۲) سوال: د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مبارك نوم په قرآن کې څو ځلې راغلی؟
ځواب: (۴) څلور ځلې.
(۲۴۳) سوال: په قرآن کې تر ټولو زياته کومه کلمه راغلې ده؟
ځواب: الله (۲۶۴۰) ځلې.
(۲۴۴) سوال: دا به څه شی وي؟ چې پرون نه و، نن پيدا شو او سبا مري؟
ځواب: نن ورځ.

Scanned by CamScanner

(۲۴۵) سوال: هغه کومه مېوه ده، چې په نړۍ کې له ټولو څخه زياته خوړل کېږي؟

ځواب: هغه کېله ده.

(۲۴۶)سوال: هغه به څه شی وي؟ چې پرته له لوګي اور اخلي؟

ځواب :ګازي داش.

(۲۴۷) سوال: په پينځه وخته لمانځه کې څو ځله (الله اکبر) ويل کېږي؟

ځواب: يو سل دوه اتيا (۱۸۲) ځله.

(۲۴۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ته يې ګوری خو تا نه ګوري؟

ځواب: تلويزون.

(۲۴۹) سوال: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په څو کلنۍ کې له خديجې رضی الله تعالی عنها سره نکاح وکړه؟

ځواب: په (۲۵) کلنۍ کې.

(۲۵۰) سوال: هغه کومه مېوه ده چې زړی يې تر ټولو غټ وي؟

ځواب: ام.

(۲۵۱) سوال: پښې يې په اسمان کې، سر يې ابښی په درياب کې غورځنګ وهي شتاب کې؟

ځواب : مندانو دی .

Scanned by CamScanner

(۲۵۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې الله تعالی ښځو ته نه دې ورکړې؟
ځواب: د پغمبری رسالت.

(۵۳۲) سوال: هغه څه شی دی؟ چې یو ښخ کړه، ډېر اوباسه؟
ځواب : الو دی.

(۲۵۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې په لاسونو، پښو او سر روان وي؟
ځواب: اوبه.

(۲۵۵) سوال: تر ټولو زیات ښایسته انسان څوک ؤ؟
ځواب :یوسف علیه السلام.

(۲۵۶) سوال: هغه به څه شی وي؟ مړه شیان ژوندي کوي او ژوندي شیان مړه کوي؟
ځواب: برق یا بریښنا.

(۲۵۷) سوال: د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ویناوو ته څه نوم اخېستل کېږي؟
ځواب: حدیث ورته وایي.

(۲۵۸) سوال: تر ټولو زیات عمر د کوم حیوان دی؟
ځواب: د سمسارې.

(۲۵۹) سوال: زما ډېر مېلمانه دي، په یوه بالښت پراته دي؟
ځواب : د کوتې تیر .

Scanned by CamScanner

(۲۶۰) سوال: د انسان په بدن کې تر ټولو زیاتې اوبه په کوم اندام کې دي؟

ځواب: په سترګې کې.

(۲۶۱) سوال: هغه څوک دی، چې ستا پلار یې نیکه دی، ستا ورور یې کاکا دی او ته یې د مور میره یې؟

ځواب : ستا زوی دی .

(۲٦۲) سوال: هغه کوم ډول منګی دی، چې دوه ډول اوبه په کې وي؟

ځواب: هګی.

(۲٦۳) سوال: په افغانستان کې لومړی کوم پوهنځی تاسیس شو؟

ځواب: طب پوهنځی.

(۲٦۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې حجم یې د فیل دی خو وزن یې د بڼکي نه سپک دی؟

ځواب : د فیل سوری دی .

(۲٦۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې خېټه لري، خو کولمې نه لري؟

ځواب: منګی.

(۲٦٦) سوال: هغه به کوم شی وي؟ چې ډک وي او که تش وي په وزن کې یی تغیر نه راځي؟

ځواب: کیسټ.

Scanned by CamScanner

(۲٦۷) سوال: خېته کې يې اوبه دي، ملا کې يې اور دی سر کې يې لرگی دی، دا به څه شی وي؟
ځواب: چلم.
(۲٦۸) سوال: اس ولاړ، بچی ترې لاړ؟
ځواب: ټوپک او کار توس.
(۲٦۹) سوال: يو سړی دی ستا د کاکا ورور دی؛خو ستا کاکا نه دی، نو ستا څه به کېږي؟
ځواب: پلار.
(۲۷۰) سوال: هغه کوم اذان دی چې د لمونځ لپاره نه کېږي؟
ځواب: د ماشوم په غوږ کې اذان.
(۲۷۱)سوال: هغه څه شی دی، چې هم ترې انسان جوړشوی او هم ترې لوښی؟
ځواب: خاوره.
(۲۷۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې خومره يې کشکوې نو لنډېږي؟
ځواب: سگرټ.
(۲۷۳) سوال: په قرانکريم کې دکوم صحابي نوم راغلی دی؟
ځواب: زيد (رضی الله عنه).
(۲۷۴) سوال:هغه به څه شی وي؟ چې په هرلاره تللی شي حتی په غره هم ختلای شي، په لږو اوبوکې نه شي تلای ؟
ځواب: ميږې.

Scanned by CamScanner

(۲۷۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې نه څه خوري او نه څه څښي؟

ځواب : ګوډاګی .

(۲۷۶) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ته هره څومره غټېږې، هغه وړې کېږي؟

ځواب: د انسان جامې.

(۲۷۷) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې پوستکی یې د ننه او غوښه یې بهر ده؟

ځواب: د چرګ شاتینګه.

(۲۷۸) سوال: د ماما د زوی مور د ماما د پلار څه کېږي؟

ځواب: اینګور.

(۲۷۹) سوال: چرګ د ورځې څو هګۍ اچوي؟

ځواب: چرګ هګۍ نه اچوي.

(۲۸۰) سوال: هګۍ مخکې پیدا شوې او که چرګه؟

ځواب : چرګه .

(۲۸۱) سوال: هغه د کوم مضمون نوم دی، چې سرچپه یې کړې، د خیرات کلمه ترې جوړه شي؟

ځواب: تاریخ.

(۲۸۲) سوال: تر ټولو زیات ښکلي آواز د چا و؟

ځواب :د داؤد علیه السلام.

Scanned by CamScanner

(۲۸۳) سوال: هغه کوم حشرات دي چې نسبتا نور بدن ته يې دماغ غټ وي؟
ځواب: مېږی.
(۲۸۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې بې زړه يې نبض حرکت کوي؟
ځواب : ساعت .
(۲۸۵) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې په دوه پښو روان وي، مگر کله په درېيو پښو او کله په څلورو پښو ودرېږي؟
ځواب: موټر سايکل.
(۲۸۶) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې په اوړي کې جامی اغوندي خو په ژمي کې لوڅ ولاړ وي؟
ځواب: ونه.
(۲۸۷) سوال: په مرغانو کې تر ټولو غټې هگۍ کوم مرغه اچوي؟
ځواب: شتر مرغه.
(۲۸۸) سوال: هغه کوم زندان دی، چې يو زنداي په کې وي؟
ځواب : خوله ده .
(۲۸۹) سوال: سپی څو غاښونه لري؟
ځواب: (۴۲) غاښونه.
(۲۹۰) سوال: فيل څو غاښونه لري؟
ځواب: (۳۲) غاښونه.

Scanned by CamScanner

(۲۹۱) سوال: اوښ څو غابښونه لري؟

ځواب: (۳۴) غابښونه.

(۲۹۲) سوال: تر ټولو غښتلې حکومت د ځمکې پرمخ چاکړی دی؟

ځواب: سلیمان علیه السلام.

(۲۹۳) سوال: دولس سري دي او دري ښځې یې منځ کې ګډېږي، دا به څه شی وي؟

ځواب: ساعت.

(۲۹۴) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې محمد (صلی الله علیه وسلم) نه دی کړی، خو که مسلمان یې ونه کړي ګناهګارېږي؟

ځواب: د پلار او مور احترام.

(۲۹۵) سوال: یو ستن ده، دري بامه لري؟

ځواب: شفتله.

(۲۹۶) سوال: د افغانستان د کوم باچا په نوم کې ۸ واري (م) توری راغلی دی؟

ځواب: امیر المومنین ملا محمد عمر المجاهد.

(۲۹۷) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې په دنیا کې موجود دی، مګر مخلوق نه دی؟

ځواب: قرآن کریم.

Scanned by CamScanner

(۲۹۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ځي راځي او په ځای نه ودرېږي؟

ځواب: د روازه ده .

(۲۹۹) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې تور وي پاك وي، خو چې سپين شي خيرن شي؟

ځواب: د ليکلو توره تخته.

(۳۰۰) سوال: افغانستان په کومه نيمه کره کې پروت دی؟

ځواب: په شمالي نيمه کره کې.

(۳۰۱) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې تگ کوي، درېږي خو پښې نه لري؟

ځواب: ساعت.

(۳۰۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ليکل کوي، خو خبرې نه کوي؟

ځواب: قلم.

(۳۰۳) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ډېر شي کم شي؟

ځواب: عمر.

(۳۰۴) سوال: هغه کومه سبزي ده، چې منځ يې سپين دی خو رنگ يې تور دی؟

ځواب: تور بانجان.

Scanned by CamScanner

(۳۰۵) سوال: هغه کوم سورت دی، چې په هغې کې د سلو نه زيات اياتونه دي، خو په هغې کې د جنت او جهنم ذکر نشته؟
ځواب: هغه سورت يوسف دی.
(۳۰۶) سوال: د ورځې گرځي، د شپې په ځان اغزي اچوي؟
ځواب: سترگې.
(۳۰۷) سوال: د انسان په بدن کې هغه کوم هډوکی دی، چې غوښه نه لري؟
ځواب: غاښونه.
(۳۰۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې غاښونه لري خو څه شی نه شي پرې نيولی؟
ځواب: ږمنځ.
(۳۰۹) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې موږ له يو ځای نه بل ځای ته رسوي خو خپله حرکت نه کوي؟
ځواب: لاره.
(۳۱۰) سوال: هغه به کوم شی وي؟ چې سپين وي شي توريږي نه او چې تور شي سپينيږي نه؟
ځواب: شپه او روځ.
(۳۱۱) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې زه ځم، هغه هم راسره ځي؟
ځواب: سيوری.

Scanned by CamScanner

(۳۱۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې بند شي بیا یې څوک نه خلاصوي؟

ځواب: قبر.

(۳۱۳) سوال: هغه کوم کور دی، چې نه کلف لري او نه کیلي؟

ځواب: هگی.

(۳۱۴) سوال: یو شی دی په ونه لېونی دی؟

ځواب: تبر.

(۳۱۵) سوال: د قرآن کریم څو سورتونه په مکه کې نازل شو؟

ځواب: ۸٦ / سورتونه.

(۳۱٦) سوال :رسول الله( صلی الله علیه وسلم ) په کومه ورځ پیدا شوی؟

ځواب: د دوشنبې په ورځ.

(۳۱۷) سوال: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په کومه ورځ ناروغه شوی دی؟

ځواب: د چهارشنبې په ورځ.

(۳۱۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چه کله کوټې ته ننوزي ټوله کوټه ډکیږی؟

ځواب: رڼا.

(۳۱۹) سوال: قرآن کریم څو ایاتونه لري؟

ځواب: ٦۲۳٦ ایتونه.

(۳۲۰) سوال: د قرآن کریم څو سورتونه په مدینه کې نازل شوي؟
ځواب: ۲۸ سورتونه.
(۳۲۱) سوال: هغه څه شی دی؟ چه د ورځې ډکیږی او د شپې تشیږی؟
ځواب: بوټ.
(۳۲۲) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې لښته ده ګل لښته ده نه ماتیږي سخته ده؟
ځواب : روژه .
(۳۲۳) سوال: هغه به څه شي وي؟ چې له شیشې وځي خو شیشه نه ماتوي؟
ځواب: لمر.
(۳۲۴) سوال: دا به څه شی وي؟ سپینه سپوږمی ده، په ملا سوری ده؟
ځواب: دا کونجکه ده.
(۳۲۵) سوال: نوم د شمېر له مخې په څو ډوله دی ؟
ځواب: په دوه ډوله دی (مفرد او جمع).
(۳۲۶) سوال: تیره وړي غوبنه راوړي؟
ځواب: لینده.
(۳۲۷) سوال: عبدالحی حبیبي چیرته زیږیدلی دی ؟
ځواب : په کندهار کې.

(۳۲۸) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ټول یې کړي ټولېږي، چې خور یې کړې ورکېږي؟
ځواب : اوبه .
(۳۲۹) سوال: بند په بند، هر بند یې لري خوند؟
ځواب : گنی .
(۳۳۰) سوال: احمد شاه بابا په کوم کال دخپلواک افغاني دولت بنسټ کېښود ؟
ځواب : (۱۱٦۰) ه–ش کال .
(۳۳۱) سوال: یو شی دی، چې تا به وخوري لېونی دی؟
ځواب : مرگ .
(۳۳۲) سوال: محمد (صلی الله علیه وسلم) په څو کلنۍ کې په پېغمبرۍ مبعوث شو ؟
ځواب : په (۴۰) کلنۍ کې .
(۳۳۳) سوال: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خپل کاکا ابوطالب سره لومړی سفر شام ته په څو کلنۍ کې وکړ؟
ځواب : دولس کلنۍ کې .
(۳۳۴) سوال: د لومړي ځل لپاره کوم اروپایې، چین ته سفر وکړه؟
ځواب : مارکوپولو .

(۳۳۵) سوال: لومړي ځل لپاره د بخارۍ ماشین په کوم کال او د چا لخوا جوړ شو؟
ځواب : (۱۷۸۲) د جمیزواټ په واسطه .
(۳۳۶) سوال: کوم دري هېوادونه پخوا د هند په نامه یادیدل؟
ځواب : هند ، پاکستان ، بنګله دیش .
(۳۳۷) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې له تورې نه هم تېره دی؟
ځواب : ژبه .
(۳۳۹) سوال: اوردو ژبه د کومو ژبو څخه جوړه شوې ده؟
ځواب : د پخوانۍ ، فارسي ، هندي ،(او داسي نور)
(۳۴۰) سوال: په هېواد کې الوتونکي حیوانات په کومو سیمو کې زیاتره ژوندکوي؟
ځواب : د هلمند ، په هامون ،او داسي نور وکې.
(۳۴۱) سوال : هغه کوم پاچا ؤ چې څلویښت کاله یې په مسلمان ملک کې پاچاهي کړې او حج یې نه ذی کړی؟
ځواب : محمد ظاهر شاه .
(۳۴۲) سوال : د قرآنکریم په سوت کې د الله لفظ دوه ځلې یو ځای راغلی دی ؟
ځواب : سورت الانعام (۱۲۴) ایت .
(۳۴۳) سوال: هغه کوم لرګی دی ، چې خوړل یې کول؟
ځواب : د موسی علیه السلام آمسا.

(۳۴۴) سوال: هغه کوم سورت دی چې د (ف) حرف پکې ندې راغلی ؟
ځواب : سورت الفاتحه .
(۳۴۵) سوال : د کوم صحابي نوم په قرآن کې راغلی دی ؟
ځواب : زید (رضی الله عنه) .
(۳۴۶) سوال : هغه کوم صحابي ؤ چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د توري حق یې اداکړی ؤ ،
ځواب : ابو دوجانه (رضی الله عنه).
(۳۴۷) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې د شیشې نه اخوا وځي خو ماته وي یې نه؟
ځواب : رڼا.
(۳۴۸) سوال: کله چې یو انسان له خوبه راپورته کېږي، لومړی څه شی کوي؟
ځواب : لومړی سترګې غړوي .
(۳۴۹) سوال: هغه به څه شی وي؟ چې ننباسې یې لمده وي خو کله چې یې راوباسي وچه وي؟
ځواب : ډوډی .
(۳۵۰) سوال: هغه کوم حیوان دی چې په خیټه کې یې الله تعالی ته سجده لږیدلې؟
ځواب : د ماهي (کب) په خیټه کې یونس (علیه السلام) سجده لږ ولې وه.

**(پای)**

# تاسې کولی لاندې کتابونه د ورکړ شوي لینکونو څخه ښکته ( ډانلوډ ) کړی

| د ښکته کولو ترونې | کتابونو نوملړ | شمیره |
|---|---|---|
| https://bawar.net/download/index/1170 | غیر مقلدینو اعتراضونه د هغوي جوابونه د احنافو دلایلو سره | 1 |
| https://bawar.net/download/index/1371 | مد لل لمونځ ( مولانا فیض احمد ملتانی) | 2 |
| https://bawar.net/download/index/1567 | دخالد بن ولید رضی الله عنه جهادي کارنامي | 3 |
| https://bawar.net/download/index/1592 | نبوي او سپیڅلي ویناوي | 4 |
| https://bawar.net/download/index/1652 | احقاق الحق څلور ټوک | 5 |
| https://bawar.net/download/index/1677 | زبدة التحقیق فی الجهاد وتقلید | 6 |
| https://bawar.net/download/index/1685 | داسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنیفه (رح) | 7 |
| https://bawar.net/download/index/1847 | تفسیر معارف القران لس ټوکه | 8 |
| https://bawar.net/download/index/1587 | لس مشهوري ناروغۍ | 9 |
| https://bawar.net/download/index/1904 | د افغانستان تاریخ له راشده خلافته تر اسلامی امارته | 10 |
| https://bawar.net/download/index/1916 | د مذهب په جامه کې د استعمار مزدوران | 11 |
| https://bawar.net/download/index/1922 | علم النحو پښتو | 12 |
| https://bawar.net/download/index/1978 | دغیر مقلدینو دامام بخاري سره اختلاف | 13 |
| https://bawar.net/download/index/1979 | داسلامی معلوماتو ذخیره پښتو | 14 |
| https://bawar.net/download/index/1980 | دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه حیرت انګیز واقعات | 15 |
| https://bawar.net/download/index/2034 | احسن التعبیر فی المسئلة الجبر وتقدیر | 16 |
| https://bawar.net/download/index/2036 | تحقیقات حماسي | 17 |
| https://bawar.net/download/index/2037 | جوامع الکلم څلویښت احادیث مفتي محمد شفیع | 18 |
| https://bawar.net/download/index/2066 | المهند المفند عقاید اهل سنت والجماعت علماء دیوبند | 19 |
| https://bawar.net/download/index/2073 | تشریحات نابغه | 20 |
| https://bawar.net/download/index/2077 | جنتي ښځه | 21 |
| https://bawar.net/download/index/2078 | د جنت اغزنه لار | 22 |
| https://bawar.net/download/index/2084 | دپیغمبر لمونځ احنافو ته ډالۍ | 23 |
| https://bawar.net/download/index/2085 | تجلیات فردیه پښتو | 24 |
| https://bawar.net/download/index/2086 | بدرالفتو | 25 |
| https://bawar.net/download/index/2087 | دقرباني مسایل احکام ، فضایل،او مسائل مدلل | 26 |
| https://bawar.net/download/index/2088 | دګونټنامو ماتې زولنې | 27 |
| https://bawar.net/download/index/2089 | فن الخطابه (دوینا فن) | 28 |
| https://bawar.net/download/index/2090 | نشر الطیب في ذکر النبي الحبیب | 29 |
| https://bawar.net/download/index/2091 | اصول حدیث (شهید شیخ الاسلام مولانا غلام حضرت الحنفی ) | 30 |
| https://bawar.net/download/index/2092 | تنبه الغافلین پښتو | 31 |
| https://bawar.net/download/index/2093 | وا مدني یاره نعتیه غورچان | 32 |
| https://bawar.net/download/index/2096 | په یو کلیمې سره د طلاقو واقع کیدل | 33 |
| https://bawar.net/download/index/2097 | ارشاد الطالبین دزادالطالبین شرح پښتو | 34 |
| https://bawar.net/download/index/2101 | البصایر پښتو | 35 |
| https://bawar.net/download/index/2103 | ۳۰۰ ذهني پوښتني او ځوابونه | 36 |
| https://bawar.net/download/index/2104 | جامع الوظایف | 37 |
| https://bawar.net/download/index/2106 | داحنافو دلایل | 38 |
| https://bawar.net/download/index/2107 | د کلیساه د پردو ترشاه پټ لاسونه | 39 |
| https://bawar.net/download/index/2108 | د دعوت فنون | 40 |
| https://bawar.net/download/index/2117 | د واده لومړۍ لس شپې | 41 |
| https://bawar.net/download/index/2118 | زادة الطالبین پښتو ترجمه | 42 |
| https://bawar.net/download/index/2119 | اصول التکفیر | 43 |
| https://bawar.net/download/index/2120 | د ماشومانو ښکلا | 44 |
| https://bawar.net/download/index/2122 | د مبایل فون شرعي احکام | 45 |
| https://bawar.net/download/index/2128 | د انجمن تقریرونه | 46 |
| https://bawar.net/download/index/2137 | دحضرت عبد الله ابن عباس رض سل قیصی | 47 |
| https://bawar.net/download/index/2138 | فایق التقاریر | 48 |
| https://bawar.net/download/index/2139 | دخاوند حقوق | 49 |
| https://bawar.net/download/index/2141 | قرآنی علاج | 50 |
| https://bawar.net/download/index/2148 | د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ | 51 |
| https://bawar.net/download/index/2164 | کامل مسنون لمونځ | 53 |
| https://bawar.net/download/index/2165 | یوځلې بیا ژوندون !! | 56 |
| https://bawar.net/download/index/2168 | صدام حسین | 54 |
| https://bawar.net/download/index/2169 | د یویشتمې پیړۍ امیر المؤمنین ملا محمد عمر | 55 |
| https://bawar.net/download/index/2170 | زه څنګه حنفي شوم | 56 |

که د کوم کتاب په ډانلوډ کولو کې ستونزه لرئ مهرباني وکړئ زمونږ سره اړیکه ټینګه کړئ.

https://www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai
WhatsApp: 0093706912702
https://T.me/Ezatullah_sultanzai

- یوه کوټنۍ ده، په کې ناسته لیونۍ ده؟
- یوه ښځه ده، ستا د ترور خور ده، ستا ترور نه ده؟
- هغه به څه شی وي، چې پاڼې لري نبات نه دی، پوستکی لري، حیوان نه دی او ژبه لري انسان نه دی؟
- ستا د ښځې وروړ زما ماما کېږي، زه او ته به سره څه کېږو؟


باور خپرندویه ټولنه
ننګرهار - افغانستان
0795353610
خپرندویه ټولنه